دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اوونيزه
شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

PROPERTY OF ACKU

درس قرآن

اى مؤمنانو! په انصاف کلک ودریږئ او باید د الله لپاره گواهي ورکړئ که څه هم ستاسې، ستاسې د مور او پلار او یا خپلوانو پرخلاف وي، هغوی بډای وي یا مسکین، څکه چې الله له تاسی څخه پر هغوی ډېر مهربان دی. د انصاف په کار کې د خپل هوا منله مه کوئ که تاسې په گواهي کې ژبې واړوئ یا له ویلو ډډه وکړئ نو ښکه چې الله پاک ستاسی له کړنی څخه ښه خبر دی.

(النساء: ۳۴ - ۳۵)

درس حدیث

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې یو سړي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله پیغمبره! زه چې کله نیکي یا بدي وکړم نو څرنگه پوه شم چې دا نیکي یا بدي ده؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: کله چې تا له خپلو گاونډیانو څخه واوریدل چې نیکي دې وکړه نو تا ښکه نیکي کړی ده او چې ورڅخه دی واوریدل چې تا بدي کړی ده نو ښکه بدي دی کړی ده. (ابن ماجه)

شهادت دویم کال، ۹۷ مه گڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د کب ۱۱ مه د۱۴۳۲ هـ ق د ربیع الاول ۲۲ مه د۲۰۱۱ م د مارچ ۲ مه

له اونیو بحثونو وروسته د ولسي جرگې رئیس وټاکل شو

کابل، رسنی:
که څه هم عبدالرؤف ابراهیمي د وکیلانو د رایو په نږدې توافق سره د ولسي جرگې رئیس وټاکل شو، خو بیا هم نوموړي تر ډېره د یوه سیاسي جوړ جاړي په نتیجه کې دغه څوکی راخپله کړه.
د رئیس د ټاکلو پر سر په ولسي جرگې کې له اونیو شخړو اوبحثونو وروسته یوه ځانگړي کمیسیون د حل لارې په توگه له ازبک تروکمن څخه د یوه کاندید د معرفي کولو وړاندیز هم کړی و، چې په ولسي جرگې کې ازبک وکیلانو له سلا مشورو وروسته ښاغلي ابراهیمي د رایې اخیستنې لپاره ور وپیژنده.
نوموړي ته په علني توگه رایه ورکړل شوه او په غونډه کې له ۱۷۳ حاضرو وکیلانو څخه له څلورو پرته نورو ټولو موافقې رایې ورکړې.

پاتې ٤ مخ

در سال میلادی جدید شمار نظامیان خارجی کشته شده در افغانستان به ۶۴ تن رسید

خبرگزاري فارس:
با کشته شدن ۳ نظامی خارجی در جنوب و شرق افغانستان، شمار نظامیان کشته شده خارجی از ابتداي سال میلادي جدید به ۶۴ تن رسید.
به گزارش خبرنگار خبرگزاري فارس در کابل، ۲ نظامی خارجی روز گذشته در جنوب افغانستان بر اثر انفجار کنار جاده ای کشته شدند و یک تن دیگر در شرق این کشور بر اثر درگیري مسلحانه با شبه نظامیان کشته شد.
با آنکه نیروهاي آیساف از ارائه توضیحاتی در مورد هویت و محل دقیق نظاماین کشته شده خودداري کرده اند، اما روز گذشته شاهدان عیني در ولایت "قندهار " در گفت‌وگو با رسانه هاي محلي، از کشته شدن ۲ نظامي امریکایي

بقیه در صفحه ۴

گورباچوف وایي په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو بریالیتوب ناممکن دی

تاند:
د پخواني شوروي اتحاد وروستي ولسمشرمیخاییل گورباچوف په یوه مرکه کې ،چې نن خپره شوه، وویل،د نړیوالو ایتلافي ځواکونو لپاره ناممکنه ده چې په افغانستان کې بریالي شي.
گورباچوف د خپلې ولسمشرۍ په دوره کې له افغانستانه له نژدې لس کلنې مداخلې وروسته د شوروي پوځونه په ۱۹۸۹ع کال وایستل.
ده د بي بي سي نړیوال سرویس ته په مرکه کې وویل چې له افغانستانه د ځواکونو ایستل به د بل ویتنام په مانا وي.
ده د ولسمشربارک اوباما د دې اعلان ملاتړ وکړ چې د ۲۰۱۱ کال په جولای کې له افغانستانه خپل ځواکونه په تدریجي ډول باسي او د امنیتي چارو مسوولیت افغان

پاتې ٤ مخ

روابط امریکا و افغانستان و ایجاد پایگاههای نظامی امریکا در کشور ما

صفحه دوم

د کابل بانک پیښه

درییم مخ

"ابراهیمي " رئیس جدید پارلمان افغانستان کیست؟

خبرگزاري فارس:
عبدالرئوف ابراهیمي که پس از یک ماه کشمکش و رایزني‌ها روز گذشته به‌عنوان رئیس پارلمان افغانستان انتخاب شد، از قوم ازبک است و سابقه همکاري را با "حزب اسلامي " دارد.
به گزارش خبرنگار خبرگزاري فارس در کابل، عبدالرؤف ابراهیمي بدون کارزار انتخاباتي، رایزني‌هاي سیاسي و حزبي، با به‌دست آوردن ۱۶۹ رأي به عنوان رئیس پارلمان افغانستان انتخاب شد.

بقیه در صفحه ۴

پاکستاني پوځیانو د ننگرهار د گوشتې د نیولو لپاره بریدونه پیل کړي

ننگرهار، تاند:
پاکستاني ځواکونو یوځل بیا د ننگرهار د گوشتې ولسوالی پر استوگنو سیمو بمبارې او توغندویي بریدونه کړي دي.
تېره میاشت هم پاکستاني پوځیانو د ننگرهار د دې ولسوالی د خلکو پر کورونو او دولتي ودانیو بمبارې کړې وه خو د افغانستان حکومت یې په وړاندې هیڅ راز عکس العمل ونه ښود.
د گوشتې ولسوالی ځو تنو اوسېدونکو تاند ته وویل، له تېرو درو ورځو راهیسې پاکستاني پوځیانو د گوشتې ولسوالی پر هغو استوگنو سیمو بریدونه کوي چې د ډیورنډ کرښې ته نژدې دي.

دوی وویل پاکستاني پوځیان هم د دهشکو او توغندو بریدونه کوي او هم د الوتکو په وسیله بمبارې.
تراوسه پورې د افغانستان حکومت د پاکستاني ځواکونو د بریدونو په وړاندې رسماً عکس العمل نه دی ښودلی.
د ننگرهار د سرحدي پولیسو قومندان جنرال

پاتې ٤ مخ

هیلری کلنټن:

د لیبیا ولسمشر "القذافي" دې ژر تر ژره واک پریږدي

آزادي راډیو:
د امریکا د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن پرون وویل، هغه وخت راغلی، چې د لیبیا مشر معمر القذافي بې ځنډه او تر نور تاوتریخوالي پرته فوراً واک پرېږدي.
مېرمن کلنټن دا خبره پرون په جینوا کې د ملگروملتو د بشري حقونو د شورا په شپاړسمه غونډه کې وکړه.
"ډگروال قذافي او هغوی چې ملگري یې دي، باید د هغو اعمالو مسوول وگڼل شي، چې د نړیوالو حقوقي ژمنو او کرامت سرغړونه کوي.
دوی په دې اقداماتو د خپلې واکمنۍ

پاتې ٤ مخ

به دلیل حملات پی در پی طالبان؛

نظامیان امریکا تامین امنیت یک منطقه را به نظامیان افغان واگذار کردند

خبرگزاری فارس:
گرچه سخنگوي "آیساف "واگذاري تأمین امنیت "دره پیچ " ولایت "کنر "را عادی خواند اما به اقرار "واشنگتن پست "، کشته شدن ۱۰۳ نظامی امریکا عامل خروج آنان از این منطقه است.
به گزارش خبرنگار خبرگزاري فارس در کابل، سخنگوی نیروهای آیساف روز گذشته در نشستی خبری واگذاری تامین امنیت این منطقه را امری عادی خواند و از همکاری نزدیک نیروهای آیساف با نظامیان افغان خبر داد.
"جوزف بلاتس " افزایش حملات انتحاري مخالفان مسلح را ناشی از شکست آنها دانست

بقیه در صفحه ۴

د انتقالي عدالت ډله: له طالبانو سره سوله به کورنۍ جگړه پیل کړي

تاند:
د انتقالي عدالت په نوم یوې افغان ډلې ادعا کړې چې له وسله والو طالبانو سره د ولسمشر کرزي د سولې هلې ځلې به په افغانستان کې د کورنۍ جگړې سبب شي.
دې ډلې دا خبره په داسې حال کې کړې چې افغانستان عملاً په کورنۍ جگړه کې ښکېل دی.
یوازې په وروستیو دوو اوونیو کې په سلگونو افغانان وژل شوي چې یوازې د کونړ د غازي اباد له پېښې پرته چې بهرنیانو پکې لاس درلود ، نور ټول د افغانانو په خپل لاس وژل شوي دي.
د انتقالي عدالت ډله چې ادعا کوي له ۲۶ موسسو یا اېن جو گانو جوړه شوې او ظاهراً د جگړې د قربانیانو پر ساتنې تمرکز لري، د افغانستان د سولې عالي شورا هم په دې غندلې چې د سولې د هلو ځلو لپاره یې ترکیبې ته پلاوی لېږلی دی.

پاتې ٤ مخ

سپېڅنه | د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ولسي جرګې د نوي رئیس ټاکنه

بالاخره د یوې میاشتې له پوره کېدو وروسته د کب میاشتې په اتمه نېټه د ولسي جرګې غړي، له ډېرو بحثونو، خصوصي غونډو د یو بل لپاره کمپاینونو او لفظي او فزیکي نښتو وروسته پردي بریالي شول چې د رأیو په اتفاق ښاغلی حاجی عبدالرؤف ابراهیمي د نوي رئیس په توګه غوره کړي، ښاغلی ابراهیمي په داسې حال کې د اوسنی ولسي جرګې رئیس ټاکل کېږي، چې په تېره پنځه کلنه دوره کې هم په ولسي جرګه کې د کندز ولایت د مسلمانو او دیندارو خلکو استازی و او له تېرو پنځو کلو به یې د ګران هېواد او هېوادوالو لپاره د اسلام مبارک دین په رڼا کې د قانون جوړونې او هم د هېواد پر سیاسي، اجتماعي، اقتصادي، نظامی، امنیتي اوضاع ښه ترا پوهېدلی وي او پخپله د ولسي جرګې د داخلي دندو په جوړونه او ترتیب کې به یې برخه اخیستي وي، خدای دې وکړي چې د ولسي جرګې نوی رئیس د خپلو پنځه کلنو زده کړو او تجربو په رڼا کې له دغه ستر مسؤولیت نه بریالی راووځي او لکه څنګه چې د ملت استازیو دده په ټاکنه کې د ډېرو جنجالونو له شتون سره سره د یوه تاریخي ملي وحدت مظاهره وکړه، دې هم له ژبنیو، نژادي او سیمه ییزو کړکو او نفرتونو (چې پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم ورته حرام ویلې دي) په لوړه روحیه او ملي او اسلامي جذبه د افغان څورېدلیو او ځګرو ځپلیو ولسونو د یووالي، سوکالی، سولې او وروروولی لپاره کار وکړي او د ولسي جرګې ټول غړي له جلا جلا تمایلاتو او افکارو سره سره د ګران هېواد د علیا ګټو په خاطر په یوه لاره روان کړي.

شهادت اونیزه په داسې حال کې چې ښاغلي ابراهیمي صاحب ته د نوی دندې مبارکي وایي، د ستر څښتن تعالی په دربار کې لاسونه لپه کوي چې د افغان ولس د سوکالی، نېکمرغی، سولې او ملي یووالي په چار کې ورسره مرسته وکړي.

موږ په دې باب حکومت ته هم سپارښتنه کوو چې که غواړئ په ګران هېواد کې جمهوریت وده وکړي، د ولس اذهان د هېواد د حال او راتلونکي په باب روښانه شي، د ښو او بدو تمیز وکړای شي، خاین او خدمتګار وپېژني، له سیاسي او مدني آزادیو برخمن شي، د پارلمان استازي مو په واقعي ډول د ولس استازي وي، ولس ورته د خپلې سیاسي پوهې او ملي احساساتو په رڼا کې رأیې ورکړې وي، دولتي چارواکي مو له ولسي محاسبې په وېره کې وي، قانون پلي کوونکي او څارونکي مو ولسي اعتبار او تأیید له ځانه سره ولري.

پخپله ولس د ژبنیو، قومي، قبیلوي او سیمه ییزو تعصبونو له ګنده ډندنه راووځي او د یوه واحد ملت په توګه پر خپلو ورپېښو ملي مسایلو د فکر او پرېکړې جوګه شي.

ګران هېواد افغانستان مو د ملي او اسلامي مقدساتو د ساتنې او غوړېدا ترڅنګ د پرمختللې نړۍ پر پلونو پل کېږدي او د خپلمنځی اعتماد په فضا کې ژوند وکړي، ددې پر ځای چې مرکزي حکومت د افغان ولس د ګلونو د ګېډۍ په څېر ولسونه په جلا جلا ډول وپالي او وده ورکړي، او د ژبنیو، نژادي او سیمه ییزو بنسټونو پر اساس د شتمنیو، بدمعاشیو او ځانګړې قوم پالنې د جمهوریت، سیاسي او مدني آزادیو د غوړېدا هڅه وکړي، او پایله یې په موجوده ولسي جرګه کې د رئیس د ټاکنې پر سر نانډرۍ راووځي او بیا په حکومت کې قومي او نژادي جوړښتونو ته پر پاملرنه مجبور وي.

لازمه داده چې هغه سیاسي ملي ګوندونه تقویه کړي، چې ملي یووالي او ملي او اسلامي ارزښتونو ته ژمن وي، د فعالیت او غوړېدا لپاره یې زمینې برابرې کړي تر څو راتلونکې ټاکنې د سیاسي ملي ګوندونو لپاره د سیالۍ ډګر وي، په دې کار سره به مو دوه ګټې کړې وي:

لومړی دا چې د ژبنیو، نژادي او سیمه ییزو تمایلاتو په بدل کې به ملي یووالي او خپلمنځي باور او اعتماد ته لاره برابره شوې وي، چې په کرار کرار به پراختیا ومومي.

دویم دا چې د هر ډول خیانت او فساد مخه به نیول شوې وي، ځکه په سیاسي ګوندونو کې پخپله ګوندي غړي او ولسونه د محاسب کردار ادا کوي. ځکه د یوه کس خیانت ټول سیاسي ګوند بدناموي.

همدارنګه به لکه اوسنی ولسي جرګه چې ورسره مخ وه د دا ور جنجالونو لپاره به د ګوندونو ترمنځ سیاسي ائتلافونو ته لاره هواره شوې وی او هم به په حکومت کې د نژادي او ژبني توازن پر ځای د ملي یووالی په رڼا کې د لیاقت او استعداد له مخې دچارو سرته رسونې مقررات عملي شوي وي.

روابط امریکا و افغانستان

و ایجاد پایگاههای نظامی امریکا در کشور ما

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

فدا محمد فایض

گرچه آوازه های ایجاد پایگاههای نظامی امریکا در افغانستان، از چندی نقل مجلس رسانه ها شده است، اما در هفته های اخیر قوت بیشتر یافته است. اینک وزرای دفاع و داخلهٔ افغانستان (ستر جنرال عبدالرحیم وردگ، ستر جنرال بسم الله محمدی) هم در هفتهٔ اول حوت (۱۳۸۹) بنابه دعوت رابرت گیتس وزیر دفاع ایالات متحدهٔ امریکا به آن کشور سفر کردند و بتاریخ ۵ حوت نشست دوجانبه بین مقامات افغانی و امریکایی در مقر وزارت دفاع امریکا یا پنتاگان بر گزار گردید. روزنامهٔ افغان جرگه در شمارهٔ مؤرخ ۷/۱۲/۱۳۸۹ به حوالهٔ کلید گروپ نوشت:

یک مقام ارشد وزارت دفاع امریکا قبل از بر گزاری نشست مقامات نظامی و امنیتی دو کشور در گفتگو با شماری از خبرنگاران افغان گفت: امریکاییها علاقه مند هستند که برای حفظ دست آورد ده سالهٔ خود، در افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴ پایگاههای نظامی درین کشور داشته باشند. این مقام امریکایی که از خبرنگاران خواسته بود نامش افشا نشود، تصریح کرده بود که یکی از موارد اصلی قابل بحث در ملاقات مقامهای ارشد امریکایی و افغان، ایجاد پایگاه های دایمی نظامی امریکا در افغانستان خواهد بود.

مقامات افغانی و امریکایی شرکت کننده در نشست واشنگتن، پس از بر گزاری نشست به خبرنگاران گفته اند که یکی از موضوعات اصلی مطرح شده درین نشست تجهیز و تسلیح نیروهای امنیتی و دفاعی افغانستان بوده است که از سوی طرفین مذاکره به بحث و بررسی گرفته شده و تأکید شده است که نیروهای افغان باید تا سال ۲۰۱۴ بتوانند مسؤولیتهای امنیتی را به عهده بگیرند.

درین شکی نیست که در صورت پذیرفته شدن پایگاههای دایمی نظامی امریکا از سوی مراجع افغان، واشنگتن را واخواهد داشت یک سلسله اقدامات نمایشی برای تجهیز و تسلیح نیروهای امنیتی افغان انجام دهد ولی نه به حدی که نیروهای امنیتی افغان بتوانند، از کشور خود دفاع مستقلانه کند. اگر حضور نیروهای بین المللی در افغانستان را هم نادیده بگیریم، افغانستان فعلاً در بین بویژه دو همسایهٔ نیرومند شرقی و غربی خود قرار دارد که هر دو انگیزه های زیادی بخاطر دشمنی با افغانستان دارند. اولی یک قوت اتومی و موشکی در منطقه است و دومی هم در استانه تبدیل شدن به یک قوت اتومی در منطقه قرار دارد. بناءً افغانستان نیاز دارد به قوتی تبدیل شود که حداقل توان دفع و طرد دست درازی این دو همسایهٔ را داشته باشد. افغانها میدانند که حتا یک مرمی هم بدون طراحی و اجازه آنها در افغانستان شلیک نمیشود، چنانچه تا جایی که بنده اطلاع دارم این مطلب را هیأت شورای عالی صلح طی یک سفر با مقامات مذهبی و نظامی همسایهٔ شرقی ما مطرح کرده بود و این دیگر حرف پوشیده یی نیست؛ نه این ادعا نیازی به دلیل و دلایل بیشتر دارد و نه هم تردیدها و انکارهای متعدد آنها میتواند بر روی این جریانات پرده بیندازد.

تا جایی که موضوع امریکا و ناتوست، گرچه در افغانستان پیمان اتلانتیک شمالی یا ناتو حضور همه جانبه دارد، اما حقیقت آن است که ناتو یعنی امریکا؛ زیرا در رأس این پیمان امریکا قرار دارد و بیشترین هزینه این حضور را هم امریکا می پردازد و نیاز اساسی را هم امریکا برای حضور دراز مدت در افغانستان دارد و برنامه های وسیعی را هم امریکا در منطقه دارد. البته بعد از امریکا انگلیس و فرانسه و جرمنی، ایتالیا و کانادا هم تا حدی اهداف خود را دارند ولی اهداف آنها با اهداف امریکا برابری کرده نمیتواند.

تا جایی که مربوط میشود به روابط افغانستان و امریکا و اینکه افغانستان تا چه حد میتواند بر دوستی بی شائبهٔ امریکا اعتماد کند، مربوط میشود بر تاریخ دوستی (!) و روابط سیاسی دو کشور. گرچه امریکا و افغانستان هر دو یک دیگر را از مدتها برسمیت شناخته اند و با آنکه دولتهای وقت افغانستان غرض وقایه از تهدید بالقوهٔ اتحاد شوروی که در حالت تبدیل شدن به تهدیدهای بالفعل بود بارها از امریکا خواستار روابط دوستانه و همکاریهای اقتصادی، تخنیکی، نظامی وغیره شد؛ اما امریکا عمداً به صدای دولتهای افغانستان گوش فرا نداد؛ زیرا: از یک طرف امریکا بالای پاکستان سرمایه گذاری نموده بود و هر گز نمیخواست آن کشور را از خود برنجاند و به دوستی آنها ضربه وارد کند، پاکستان در منطقه بده بیر پشاور پایگاه نظامی به امریکا داده بود تا از همانجا حرکتهای شوروی را نظارت و کنترول کند و این پایگاه تا زمان زمامداری ذوالفقار علی بوتو دوام نمود.

در قدم دوم سی آی ای در تلاش بود بویژه بعد از شکست در جنگ ویتنام تا پای روسها را به افغانستان بکشاند و شکست جنگ ویتنام را با گرفتن انتقام از روسها تلافی نماید، اما افغانستان قبل از جنگ ویتنام هم بر دوستی امریکا اصرار میورزید که امریکا هر گز روی خوشی به افغانستان نشان نداد. بنده درینجا تنها به یک مورد اشاره میکنم، در زمان صدارت سردار محمد داوود خان (۱۳۳۲ ش – ۱۳۴۲ ش) که ریچاردنکسن معاون ریاست جمهوری امریکا بود و در دورهٔ بعدی رئیس جمهور شد، به افغانستان آمد، دولت افغانستان با وجود ضعف اقتصادی برای استقبال او ترتیبات فوق العاده یی گرفت و حتا سرکها را با قالینها فرش کرد و دروازه های استقبالیه ساخت و تحفه های ویژهٔ افغانی به او تهیه دیده بود، و حتی انصاری وات شهرنو کابل را بنام نکسن وات مسمی کرد که لوحهٔ آنرا هم نکسن بدست خود نصب کرد، اما زمانی که مذاکرات صورت گرفت نکسن حاضر نه شد قراردادی را با افغانستان امضا کند و بقول سرور رونا در مقاله اش تحت نام چند سند مهم در رابطه به دیورند که در مجموعه یی از مقالات بنام دیورند چاپ شده و این مجموعه در سال ۱۳۸۶ (۲۰۰۷) از سوی د افغانستان د کلتوری ودې ټولنه - جرمنی زیور طبع یافته است، وقتی نکسن به امریکا بر گشت در گزارش خود به مجلس سنا چنان اظهاراتی کرد که از تکرار آن آدمی احساس خجلت میکند و در اخیر گفت باید شمال افغانستان به شوروی، غرب آن به ایران و جنوب و شرق آن به پاکستان داده شود؛ زیرا مردم آن اهلیت و لیاقت کشور داشتن را ندارند.

توجه کنید با آنکه قوای نظامی تقریباً صد هزاری در افغانستان موجود است و با آنکه علت و بهانهٔ حضور خود در کشور عزیز ما را وجود القاعده و تروریزم در افغانستان و منطقه میداند و مقامات نظامی و ملکی آن کشور وجود رهبری القاعده و تروریزم را در آن سوی خط دیورند میدانند، ولی با آن هم در سال یکنیم ملیارد دالر با آن کشور کمک مینماید و برعلاوه از آن، کمکهای فوق العادهٔ دیگر یعنی همین حالا امریکا تمایل بیشتر به پاکستان دارد، تا افغانستان. بناءً ایجاد پایگاههای نظامی امریکا در افغانستان، تنها با اهداف ستراتیژیک امریکا در منطقه میتواند کمک نماید و هیچگونه نفعی برای افغانستان و افغانها ندارد، اگر این پایگاهها ایجاد شود مداخلات و مزاحمتهای همسایگان افغانستان و کشورهای منطقه، آنانی که این حضور را خطری برای خود میدانند ادامه خواهد داشت و افغانستان هر روز آماج حملات و مداخلات آنها خواهد بود و مسؤولیت دفاع هم بر دوش نیروهای امنیتی ناتوان و غیر مسلح افغان خواهد بود. افغانستان بجز آنکه همه روزه در سوگ فرزندان خود اشک بریزد، دیگر هیچ دست آوردی نخواهد داشت، بناءً افغانها باید درین رابطه خیلی ماهرانه قدم بردارند کاری نکنند که بار آرد پشیمانی.

د کابل بانک پېښه

عمر "نیمګړی"

لا اله الا الله محمد رسول الله
اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له، واشهد ان محمداً عبده و رسوله

دا هاغه الفاظ دي چې د سُلېمان "عمر" د تیلیفون نه مې مسلسل په ګڼو اوازونو کې اورېدل. مخې ته مې عجیبې او غریبې صحنې و درېدې. کله به را ته د هغه غوڅ غوڅ بدن سترګو ته ودرېد چې د یو لا وارثه لاش په توګه د خلکو تر منځ پروت دی او لاروي ورته د شهادت د کلمې تلقین کوي؛ کله به را ته د هغه د سلګو ډکه خوله سترګو ته کېده چې د خو لاروو په کلمو روح د روح څښتن ته سپاري؛ کله به را ته د هغه غزونې نبغې مخې ته و درېدې چې د درد له زوره خپلې شونډې چیچي او خو مسلمانان ور ته کلمې وایي چې ساه یې په اسانه و خېژي؛ کله به را ته د بم په لمبه د هغه سوی مخ مجسم شو او کله څه او کله څه. د دې سره سمې مې دا پوښتنې هم د ذهن په پرده تېرې را تېرې شوې چې: څه پېښه به ور ته شوې وي؟ د معارف د کارکوونکو سره د چا څه کار دی؟ سلېمان خو ډېر مونځ ګذاره او قران خوان دی دهغه د وژلو دچا حق دی؟ یاره دا زمونږ خلک خو ټول پنځه وخته لمونځ کوي، بیا پرې چا دا ناتار را ووست؟ ...

"لالا په کابل بانک حمله شوې ده، دُعا را ته کوئ او ...". او د همدې سره د هغه خبرې هم نیمګړې شوې او زما سوچونه هم. ښایي د "او..." نه وروسته به یې ویل چې: "بخښنه را ته و کړئ". ددغو کلمو په اورېدلو ماته دهغه د مرګ بشپړه تیارې څرګنده شوه. څومره د ایمان مرګ! آخرې خبره یې د تشهد کلمه او د پلار او مور نه د دُعا او بخښنې غوښتل وو! "ما بخښلی یې، الله دې مل شه!" جملې مې بند تیلیفون ته وویلې، د تیلیفون سکرین ته مې کتل او ۰۰.۰۸ مې پرې لوستل. ډېره لنډه خدای پاماني! بس همدا اته ثانیې وصیت؟ تا ته خو ما درویشت کاله د زړه وینې در کړې وې! ډېر په نیمه لار دې پرېښودم! تا ته خو ما په زړه کې ډېرې ښادی کرلې او رېبلې، لا خو مې نوې نوې ستا د کوژدنې خبرې پیل کړې وې، ته به هم مُسکی شوې، "ته نه لالا، زه لا تعلیم کوم" به دې وویل: ستا په سترګو کې پرته حیاء به هم ما ولوسته او ستا په خبره کې د خورې ورې خندا نه به ما ته ستا هیلې هم معلومې شوې. آخر زه یو پلار وم، ما لا ستا یوه ښادي هم نه وه لیدلې، ما تاسو ته هم په مړه خېټه ډوډی در نه کړای شوه او په خپله مې هم د ژوند یو ارمان لا نه ؤ پوره او تا بیا د واره نیمګړی نیمه خوا پرېښودم. ما د خپل سپین ږیریتوب هیلې ټولې په تا پورې تړلې وې!

"تا ته ویمه، په هلکانو خو به څه شي نه وي شوی؟"- د سلیمان د مور په دې پوښتنه مې ټکان و خوړ. "اَم، په هلکانو، نه نه". "نو دا بخښنښ دې چاته وکړ او دا ترور ولې یې؟" ما ته دا خبرې بېخې داسې ښکارېدې لکه چې څوک خوب ګوري. زما هېڅ په یاد نه ؤو پاتې چې ما به سلیمان ته څه ځواب ویلی وي او چې سترګې مې و غړولې نو دېوال ته ناست وم او تندی مې په دواړه لاسه نیولی ؤ. صادق، حارث دواړه د هغوی د مور، دواړه خویندو او ورېندارو سره را ته ولاړ ؤو. د تور سرو د ژړا زوږ زما د همت متره تازه کړه او چې څه ربښتیا ؤو هماغه مې ور ته و ویل. هلکان دواړه په بېړه و وتل او د کابلبانک د مخابراتو د څلور لارې د څانګې په لور یې منډې کړې. ځان مې وتلو ته تیار کړ. بچیانو مې نه پرېښودلم چې د سلیمان مخې ته لاړ شم خو آخر زما په سینه کې هم د یو پلار زړه درزېده، ما هم ور پسې د کابل بانک لاره و نیوله. په لاره مې د دې سوچونو سره چې عزیز خو هم د سهار په چایو کې وویل چې د سلیمان سره د ستاژ د پیسو د اخیستو د پاره کابلبانک ته ځي، د رېګ شاه مرد خان او د تالاشی د څلور لارې په سرک د ښار نه د خلکو د روان سېلاب سره په ډغرو وم. ټول خلک څوک سواره څوک پیاده د ښار نه په تېښته ؤو، رکشو، موټرو، رېړو، ... ټولو ښار ته شا کړې وه. بس هغه نر ؤ چې چا به ځان ته د وتو لاره و موندله. ټوله دُنیا د ښار نه په وتو وه او یوازې زه لکه د لېونې مخ په ښار خوشې وم. عزیز ته مې ټېلفون و کړ. د «هغه نمره چې تاسو ډایله کړې ده اوس لاس رسی نه ور ته کېږي» ځواب مې تلوسه دوه چنده کړه. اوس کله د کور په انګړ کې غبرګې جنازې ګورم، کله د کابلبانک په دهلېزونو کې د خپل ځیګر ټوټې را ټولوم، کله روغتون په روغتون ګرځم او کله مې یو او کله بل ته د وینې ور کولو د پاره لستونې را بډ وهم چې د موټر په هارن مې د تصور لړۍ غوڅه شي. په همدې اندېښنو کې د پولیس د رینجر سره د مخابراتو په څلور لارې کې مخ په مخ و درېږم. زه او دوی سم په سم را و رسېدو. "کاکا چرته غاړې ته شه، ډزې دي چې ژوبل نه شي" یو پولیس را ته کړل. او چې د هغې ځای نه یې را روان کړم نو د درزیانو په کوڅه یې ور برابر کړم او نور یې پرېښودم. بیا د تیلیفون ګینګړی و شرنګېد. دا ځل ما ته د موبایل په سکرین دوه تصویره تت تت ښکارېدل. او چې تیلیفون مې واخیست نو د عزیز غږ مې تر غوږ شو. "لالا سلیمان ... ". "هو زه هم ور پسې را غلی یم". او په ښبه پته مو سره د المونیم د هټېو تر مخ پیدا کړل. دهغه په مخ هم د غم لمبه ګرځېدلې وه خو زما خوله لړه لمده شوه. کلاشینکوفې، ګورنوفې، شلکا، ... لکه د شین اسمان د تندر کړنګېدلې. دکانداران د دېوالونو شا ته د ډزو نه پټېدل او مونږ پلار او زوی هڅه کوله چې د کابل بانک دروازې و ګورو، ګوندې سلیمان یې په دُرشل پښه را واړوي. د مخابراتو د څلور لارې فضا سرو ګولېو نیولې وه، خمکه یې هم سره شوې وه. د "نور یې وېشتل او زه یې را و ایستلم" په جمله غفران د عزیز پوښتنه ور لنډه کړه. مونږ اوس ډېر کوښښ و کړ خو د سلیمان تیلیفون نه مخ کېده. زمونږ اندېښنه ورو ورو په یقین بدلېده. هره شېبه د یو بد خبر د اورېدو انتظار ؤ چې د صادق زنګ را غی- "لالا، د سلیمان موټر سایکل هاغه دی د بانک مخې ته ولاړ دی" او بېرته یې غږ بند شو. مونږ اوس د سلیمان په ټېلفون ډېرې وسې کولې خو لکه چې نور نه چرته هغه ؤ او نه یې ټیلیفون.

مونږ په کوڅه کې ښکته پورته لکه د سودایانو تلو را تلو چې عزیز په موبایل کې و ویل "همن، سلیمانه، لالا سره و ګرېږه". ما ترې د "څنګه یې؟" پوښتنه و کړه او هغه را ته همدومره وویل: "زه په مړو او زخمیانو کې پروت یم، بس هره لحظه د مرګ انتظار دی، ما ته بخښش و کړئ" او اواز یې قطع شو. خبره د شل بانډې یوولسو نه دولسو او د دولسو نه دولس نیمو بجو ته و رسېده، ډزی سات په سات زیاتېدلې داسې لکه چې هره ګولۍ زما په زړه ور ننوزي او له څیکره مې وزي. "لالا، زه شفاخانې ته لاړم. د تور جمپر یو هلک یې په امبولانس کې واچاؤ-لکه چې سلیمان ؤ" د همدې خبرې په ختمېدو د صادق خبرې هم بندې شوې. ما د سلېمان نمبر ته په ټیلیفون پسې ټیلیفون کاؤ خو نور نه ټیلیفون کېده او نه دستګاه جواب را کاؤ. هره شېبه لکه د کال اوږدېده، مونږه او نورو په لسګونو ژوندو شهیدانو د کابلبانک د وینو د حمام نه د خپلو قربانیانو د تر لاسه کولو په هیله سروالې بروالې ګرځېدو چې زما نمبر د سلیمان د نمبر سره مخ شو "لالا، دلته یو پولیس ګرځي، خلک ویشتل کېږي خو سړی یې نه معلومېږي"، "ښه څه، ته یو دېوال ته یا په یو کنج کې ټیټ کېنه" او په همدې سوال ځواب بیا اړیکه پرې شوه. وخت تېرېده او د سرو ګولېو باران د یو سات نه بل ته تېزېده. یوه بجه شوه. ما چې ځان په سرو اوبو وینځلی ؤ په زړه مې سخته یخنې ننوته او د عزیز ژبه نوره د وچوالي نه په خوله کې نه اووښته. بس د یو دېوال نه اخواته مو عزیز د مرګ او ژوند پوښتنو سره لاس او ګرېوان ؤ او زمونږ هېڅ لاس نه ور رسېده. ! د کابلبانک د سرو وینو د ډنډ نه د باروتو تور لوګې، د ښیښو شنه ګردونه او د سپکو او درنو ډزو غږونه اسمان ته ختل. ملایکو ته به یې د هغوی د وینو د توېېدو د هغه شک ثبوت و چې په انسان یې د هغه د خلقت نه د مخه کړی ؤ او مونږ د فساد د اور د لوګو او لمبو په دې کاروان پسې پورته او پورته کتل لکه چې هغه د زړه ټوټې مو خپل روح د همدې لمبو او لوګو په بدرګه د روح مالک ته سپارې. هلته یې خواخوږو له کوره په بې صبرۍ بیا بیا ټیلیفونونه کول او زمونږ نه یې د سلیمان د ور وستلو غوښتنه په ژړا او غوغا کوله. خو سلیمان اوس د مرګ د استازو مېلمه ؤ او مونږ سره د هغه د لاسونو او پښو د سمولو اختیار هم نه ؤ. په دې منځ منځ کې به کله کله بیا د سلیمان سره ټیلېفوني اړیکه و شوه او کله نه، او د هرې دویمې اړیکې پورې به زمونږ د اړیکو نیولو لس اته کوښښونه ناکام شوي ؤو. دې اوږدو ناهیلېو او تر منځ یې لنډو بې اعتباره هیلو او د مرګ د ډېر او د ژوند د لږ امکان بې انډولۍ د سلیمان په ژوند زمونږ باور ګړی په ګړی کمزوری کاؤه. حارث زمونږ نه بېخي هېر شوی ؤ. هغه زمونږ تر ټولو د کشر نه مشر هلک دی. د هغه نه د چا تمه وه چې دا ورکه به هغه لاس ته را وړي. خو قدرت خپلې کرشمې په داسې هنر ښکاره کوي چې سړی یې هم قوت ته حیران شي او هم ښکلا ته. ټیک یو بجه او پنځه ویشت دقیقې د هغه په دې کال چې "لالا سلیمان مې کور ته را وړ"، د یو بل را ښکون سره مخ شوم. له یوې خوا یې کور ته د رسېدو خوښي او له بل لوري یې د "وړلو" اندېښنه !؟ د دې سره د بانک مخې ته یوه لویه چاودنه و شوه. د بانک تر مخ خلک په وینو و لمبېدل، موټرې له منځه لاړې او د سرک مخ په وینو، غوښو، او جامو او څپلېو پټ شو. جګړه لا دبانک د بې وسلې مشتریانو او بې دفاع مامورینو په وړاندې هماغسې توده وه، ډېری خلک لا د بانک په غرفو، دفترونو، دهلېزونو او تشنابونو کې د ټوپک په ګولېو له یوې خوا وار په وار د مرګ د کومې تېرېدل او بلې خوا د بشریت د ټیکه دارانو او د ملت په سر د نازلو میرغضبانو له وېرې د مرګ د ګواښ سره مخ ؤو. منتظرو میندو او خویندو لا د خپلو عزیزانو د راتګ لارې په بې صبرۍ څارلې، سرتورو سرونو او د دُعا لاسونو لا په خولېو کې یوازې د څښتن د دربار نه د خیر برخه غوښته. زما مرۍ د خپل بچې د ژوند د اندېښنې سره سره په دې هم بنده بنده کېده چې یو نا خبره غازې د خپلو هغو لس ګونو مظلومو بې ګناه ورونو په قتل جنت غواړي چې کله هم ساه ور کوي نو په "لا اله الا الله" یې الله ته سپاري. زما په غوږونو کې لا د قربانیانو د تشهد زمزمو انګازې کولې چې و مې لیدل چې سلېمان د خپل کور تر مخ د پېښې د شهیدانو او زخمیانو په وینو رنګ جامو کې کله یو او کله بل خواخوږي په زړه پورې نیو. ما یې بس په ژوندې لیدلو د خوښۍ څو اوښکې توې کړې، دی مې ملګرو ته پرېښود او ما مې د فامیل سره د زوی د دوهم ژوند خو شالي او د ملت د ژوبلو او قتل شوو بچو غمونه ژړل.

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(شپږمه برخه)

س۹۷: چا د لومړي ځل لپاره د اسلامی دولت د کارکوونکو لپاره د معاشونو ورکولو نظام جوړ کړ؟

ځ: د خطاب زوي عمر رضی الله عنه.

س۹۸: کوم ماشوم و چې په اسلام کې په مدینه منوره کې لومړي وزېږېد؟

ځ: عبد الله د زبیر زوي او لومړی شی چې د هغه خیټې ته داخل شو د پیغمبر علیه السلام لاړی وي.

س۹۹: په اسلام کې څوک لومړی شهیده ده؟

ځ: سمیه د عمار مور د یاسر میرمن، ابو جهل دهغې زړه په غشي ووهله او شهیده یې کړله رضی الله عنها.

س۱۰۰: لومړی شهید په اسلام کې څوک و؟

ځ: د عمار پلار یاسر او د سمیه څښتن.

س۹۳: په مطلق شکل لومړی شهید په اسلام کې څوک دی؟

ځ: سمیه د یاسر میرمن د عمار مور.

س۹۴: چا د لومړی ځل لپاره د اسنان په بدن کې د وینې جریان کشف کړ؟

ځ: یو مسلمان عالم چې په (ابن نفیس) مشهور و د لومړي ځل لپاره د اسنان په بدن کې د وینې جریان کشف کړ.

س۹۵: لومړی ګودر (د جامو منځلو ځای) په اسلام کی کوم و؟

ځ: لومړی ګودر په اسلام کی هغه و چې د پیغمبر علیه السلام په زمانه کی د صنعا ښار په شمال کې جوړ شو.

س۹۶: چا د لومړي ځل لپاره په اسلام کې ګودر جوړ کړ؟

ځ: په یمن کې د پیغمبر علیه السلام استازي فروه د مسیک زوی جوړ کړی و.

س۹۷: لومړی مسجد چې د وحي د وطن بهر جوړ شو کوم و؟

ځ: هغه جامع لوی مسجد دی چې (وبر) د یخنس انصاري زوي په صنعا یمن کې جوړ کړی و.

س۹۸: لومړی پوهنتون کوم و؟

ځ: د اشاعره (زبید) پوهنتون دی چې په اتم هجری کال په یمن کې تاسیس شوی و.

س۹۹: لومړی شخص چې په اسلام کې یې پوهنتون جوړ کړی څوک و؟

ځ: ابو موسی اشعری لومړی شخص و چی په اسلام کې یې د هجرت په اتم کال په یمن کې د اسلامي پوهنتون د تهداب ډبره کېښوده.

س۱۰۰: د یمن لومړی ډلي چې پیغمبر علیه السلام ته راغلي کومي وې؟

ځ: اشاعره لومړی ډلي وی چې له یمن نه پیغمبر علیه السلام ته د اووم هجري کال په اخر او د اتم هجري کال په اول کی راغلي.

س۱۰۱: چا د لومړي ځل لپاره اصول فقه استنباط کړی؟

ځ: امام ابو عبد الله د ادریس شافعي زوي لومړی سړی دی چې اصول فقه یې استنباط کړي ده.

س۱۰۲: د پیغمبر علیه السلام د مور نه وروسته لومړی چا پیغمبر علیه السلام ته شیدي ورکړي؟

ځ: ثوبیهٔ د ابو لهب ازاده شوي وینځې.

س۱۰۳: لومړی مسجد چې د (زبید) په ترانګه کې جوړ شو کوم و؟

ځ: جامع اشعرین و چې ابو موسی اشعري، او دهغې اشاعره ملګرو جوړ کړو.

س۱۰۴: چا لومړی د نحو علم شروع کړی دی؟

ځ: ابو اسود دؤلي د علي رضی الله عنه په امر، علي رضي الله عنه ورته و ویل: کلام اسم، فعل او حرف دی په همدي ترتیب یو څه ولیکه دا علم نحو په نوم یاد شو.

س۱۰۵: عباسی زمانه په حدیثو،فقه ، تفسیر، عربی ژبې او تاریخ کې د تالیف په زماني مشهور و، نو لومړی تالیف چا کړی؟

ځ: لومړی تالیف امام عبد الملک د عبد العزیز زوي د حریج لمسي ۱۵۵هـ کې کړی، او ویل کیږی چې ابو نصر سعید د ابو عروبه زوي ۱۵۵هـ کې کړی او دا هم ویل شوي: چې ربیع مسعودد صبیح زوي ۱۰۶ هـ کې کړی.

س۱۰۶: د اقلیدس د کتاب (العناصر) لومړی ژباړونکې څوک و؟

ځ: حجاج د یوسف زوي د مطر لمسی چې نوم یې په ۷۸۶: ۸۰۳م کالونو کې مشهور و.

س۱۰۷: کعبه د لومړي ځل لپاره په کومو زرو ښایسته کړی شوه؟

ځ: د عبد المطلب په دور کې کله چې د زمزم کوهی کنل کیدو په هغه کې دوه د سرو زرو هوسی، سپرونه او توري پیدا شوي دا لومړي سره زر و چې کعبه پرې ښکلې کړی شوه.

س۱۰۸: سجده لومړی په کوم سورت کې نازل شوه؟

ځ: د نجم په سورت کې سره له دې چې سورت علق د قرآنکریم اول سورت دی خو په دی سورت کې د سجدی ایاتونه د نجم د سورت نه وروسته نازل شوي دي.

س۱۰۹: لومړی په هند کې د مسلمانانو لپاره د یو خاص دولت د جوړولو اواز چا پورته کړ؟

ځ: فیلسوف شاعر محمد اقبال (رح).

وړاند وینه:

اسطرلاب یوه اله ده چې د هغی په واسطه نجومی د زمکې د سطحې نه د ستورو لریوالی چې په هر ځای کې وې معلوموي، دا یوناني کلمه ده چې د ستورو د هنداري معنا ور کوي.

(نور بیا)

شهادت اوونیزه

خپرووونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
دیزاین خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه
ایمیل
shahadatnews_kabul@yahoo.com

له اونیو بحثونو وروسته د ولسي ...

د ابراهیمي له انتخاب مخکې په ولسي جرګې کې ګڼ شمېر وکیلانو د موقت رئیس محمد سرورعثماني نه په اعتراض کې غونډه پرېښودله او په هغه یې تور ولګاوه چې غونډه سمه نه شي رهبري کولای او پلویتوب کوي.
که څه هم ښاغلي عثماني دغه خبرې رد کړې، خو بیا یې هم استعفا وکړه او خدایداد عرفاني د شاوخوا یو ساعت لپاره د هغه پر ځای د موقت رئیس په توګه پاتې شو.
د ولسي جرګې رئیس عبدالرؤف ابراهیمي د کندز ولایت وکیل دی او د ولسي جرګې د ریاست لپاره په تېرو څو دورو انتخاباتو او شخړو کې دومره مطرح هم نه و، خو له ولسي جرګې څخه د اکثریت باندې رایې له ترلاسه کولو داسې څرګنده شوه چې د شخړې اصلي خواوې چې عبدالرب رسول سیاف او یونس قانوني بلل کېږي، له پخوا په نوموړي هوکړه کړې وه. غونډې ته په خبرو کې دغو ډوارو وکیلانو له ښاغلي ابراهیمي نه ملاتړ هم اعلان کړ.
په عین حال کې له پخوا داسې اندیښنې هم موجودې وې، چې ایا یوه نوې او نه پېژندل شوې څېره به وکولای شي چې ولسي جرګې د حکومت د دوو نورو قوو ترڅنګ پیاوړې وساتي، همدغه پوښتنه مې د ولسي جرګې له غړي نادرخان کټوازي سره مطرح کړه:
"که نوموړی په خپل بې طرفي باندې خپلو کړنو ته دوام ورکړي نو د ولسي جرګې ټول غړي به له ده سره همکار وي."
د نوې ولسي جرګې له پرانیستلو شاوخوا څلوېښت ورځې کېږي، چې وکیلانو دغه ټوله موده د رئیس د ټاکلو پر سر په شخړو تېره کړه.
د مرستیالانو او منشیانو ټاکنه به هغه لومړنی چاره وي، چې وروسته له دې د ولسي جرګې په مخ کې پرته ده.

در سال میلادی جدید شمار ...

بر اثر انفجار خبر دادند.
نظامیان آمریکایي روز گذشته تنها از زخمي شدن یک افسر نظامي خود بر اثر انفجاري در قندهار خبر دادند اما به نظر مي رسد که گزارش شاهدان عیني مبني بر کشته شدن ۲ نظامي امریکا بر اساس واقعیت بوده است.
قندهار، زادگاه طالبان است که ۲ جناح درگیر تلاش مي کنند سلطه خود را بر این شهر حفظ کنند.
نظامیان امریکایي عملیات ۱۸ ماهه اي را در این ولایت راه اندازي کردند که میزان خسارات ناشي از این علمیات، بر اساس بررسي مقامات دولتي افغانستان، بیش از ۱۰۰ میلیون دلار بوده است.
این ولایت پس از ۱۸ ماه عملیات، نه تنها شاهد امنیت و ثبات نیست، بلکه در هفته هاى اخیر حمله طالبان به مقر فرماندهي این ولایت بیش از ۵۰ کشته و زخمی بر جاى گذاشت.

گورباچوف وایي په افغانستان ...

امنیتي خواکونو ته سپاري خو په عین حال کې بې وویل چې دا هم اسان کار نه دی.

ګورباچوف بي بي سي ته وویل: "په افغانستان کې بریالیتوب ناممکن دی.د ځواکونو د ایستلو په باب د اوباما پرېکړه سمه ده، پروا نه کوي چې دا کار څومره مشکله دی."
ده زیاته کړه: "دا به د امریکا لپاره سخته وي چې له افغانستانه ووځي ځکه چې پخوا امریکا په دغه هیواد کې سخت دریځي روزلي چې لا هم په سیمه کې تروریستي فعالیتونه کوي."
ګورباچوف ، په پخواني شوروي اتحاد کې له واک ته رسېدو وروسته د خو کلونو لپاره په افغانستان کې د مجاهدینو پرضد جګړه تېزه کړه خو ژر پوی شو چې جګړه نتیجه نه ورکوي نو یې له دې هیواده خپل ځواکونه وایستل او پرځای یې د ډاکتر نجیب الله حکومت ته پوځي مرستې زیاتې کړې.
ګورباچوف وایي : "د امریکا لپاره به ګرانه وي چې له اوسني حالته ځان خلاص کړي.خو متبادله لار څه ده؟بل ویتنام؟ د نیم ملیون عسکرو لیږل؟دا کار نتیجه نه شي ورکولی."
حاضردمه امریکا او د ناټو نور غړي هیوادونه په افغانستان کې ټولټال یولکو دوه پنځوس زره سرتېري لري خو دا عسکر د شوروي پوځونو په شان په یوه هیواد پورې اړه نه لري نو نه یوه قومانده لري او نه هماغسې جنګېږي چې شوروي پوځونه جنګېدل .
ویل کېږي چې د لوېدیځو هیوادونو پوځیان د دې لپاره چې حکومتونه یې د خپلو عسکرو د تلفاتو په خاطر د خلکو له فشار سره مخامخ نه شي ، تر وسه وسه په جګړه کې ځان ساتي.

د لیبیا ولسمشر "القذافي" دي ...

مشروعیت بایللی او د لیبیا خلکو دا مساله په ډاګه کړې ده. د قذافي لپاره د تګ وخت راغلی، همدا اوس بې له دې چې تشدت وکړي یا ځنډ وکړي."
مېرمن کلنټن له نړیوالې ټولنې وغوښتل، چې د لیبیا د کړکیچ د پای ته رسولو لپاره د لا زیاتو اقداماتو په خاطر سره همکاري وکړي.
اروپایي اتحادیې پر لیبیا وسله وال بندیز لګولی او هغه کسان یې تحریم کړي، چې د ملکي خلکو د خپلو مسوولیت په غاړه لري.
فیلیګیدې وویل، د واشنګټن دریځ دا دی تر څو چې د قذافي رژیم د ملکي خلکو وژلو او بېرولو ته دوام ورکوي، د هر ډول اقدام غوره کول ناممکن نه دی.
تر دې مخکې د بشري حقونو په چارو کې د ملګروملتو لوی کمیشنر ناوي پیلي د بشري حقونو شورا ته وویل، باید ټول هېوادونه په منځني ختیځ کې د اصلاحاتو ملاتړ وکړي.
په یوه بل اقدام کې اروپایي اتحادیې د معمر القذافي د رژیم پرضد د بندیزونو پر لګولو سلا کړې.
په بندیزونو کې د وسلو تحریم، د شتمنیو کنګل کول او د وېزې نه ورکول شاملېږي.
د هنګري د انرژۍ وزیر تاماس فیلیګي، چې هیواد یې د اروپایي اتحادیې دوره یي مشري په غاړه لري، پرون وویل: دا پرېکړه په بروکسل کې د اروپایي اتحادیې د سفیرانو په غونډه کې وشوه.
فیلیګي همداراز وویل، اروپایي اتحادیې پر لیبیا وسله وال بندیز لګولی او هغه کسان یې تحریم کړي چې د ملکي خلکو د خپلو مسوولیت په غاړه لري.
په عین حال کې راپورونه وایي، چې پرون یوشمېر لیبیاوال هغه مهال مړه او ژوبل شول، چې د قذافي پلویانو پر اعتراض کوونکو ډزې وکړي.

"ابراهیمي" رئیس جدید پارلمان...

ابراهیمي فرزند "حاجي شیرخان "، در سال ۱۳۳۹ در منطقه "امام صاحب "ولایت "قندوز "متولد شد و اکنون دانشجوي دانشکده ادبیات دانشگاه کابل است.
وي در دوره قبلي پارلمان افغانستان در کمیسیون امنیت داخلي پارلمان عضویت داشت.

فرازهای از ارشادات نبوی صلی الله علیه وسلم

اعزامی

بنابر احادیث و روایات اسلامی ۱۲ ربیع الاول روز ولادت خیر البشر و افضل مخلوقات حضرت پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم می باشد. بدون شک میلاد النبی در تاریخ بشریت رویداد عظیمی به شمار می رود، زیرا با دیده به جهان گشودن آن حضرت صلی الله علیه وسلم تحول و دگرگونی عمیقی در کرۀ ارض بمیان آمد، او پیام آور دینی بود که پس از آن نه دیگر دینی می آید و نه هم پیامبری. پیامبر بزرگوار اسلام، نظامی را به امت خود به ارمغان آورد که هیچ گوشه ای از زندگی انسان را بدون هدایت و قانونمندی نگذاشته و ارشادات و دساتیری که گذشت زمان بجای اینکه بر کهنگی و ناکار آمدی آن بینجامد، برعکس بر تازگی و حقانیت آن گواهی می دهد که ما درین مختصر شمه ای از ارشادات جاودانۀ آن نور جاودان را مرور می کنیم.
پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرموده اند:
(زکات پل اسلام است) این فرموده نبوی صلی الله علیه وسلم نقش و اهمیت زکات را در زدودن نظام طبقاتی و نزدیکتر شدن دو طبقه ثروتمند و فقیر به همدیگر به نمایش می گذارد.
پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرموده اند:
(هر کسی ما را فریب بدهد از ما نیست) این ارشاد ضابطه و معیار روشنی است برای راه افتادن جریان سالم تجاری و معیشتی میان تجار و اهل کسبه در داد و ستد ذات البینی تا در معاملات شان به همدیگر ضرر نرسانند.
پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرموده اند:
(اجر و مزد کارگر را قبل از آنکه عرق جبینش خشک شود، بپردازید) این دستور در حقیقت، چنان مقرر نموده است تا توازن و اطمینان میان کارگر و کارفرما حاکم گردیده و آنان را بهمدیگر نزدیک نماید.
پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرمودند:
(در امت من کسانی اند که مرا خیلی دوست خواهند داشت، آنان بعد از من خواهند آمد و هر یک از آنها برای دیدن من آماده خواهد بود که همه افراد خانواده و دارایی اش را فدا کنند.)
محبان و دوستان رسول خدا صلی الله علیه وسلم دارای این صفات اند: ترجیح دادن رسول خدا بر هر کس و همه چیز دیگر، همیشه به یاد رسول خدا باشند، سوختن در محبت آن حضرت، دوستی با دوستان رسول اکرم صلی الله علیه وسلم، هر روز درود خواندن، دوست داشتن سنت های او و عمل به آنها، دوست داشتن قرآن و تلاوت و عمل به آن، دوستی و محبت با اهل و اصحاب پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم و گام گذاشتن به راه و دعوت پیامبر و استمرار به آن.
روزی یکی از اصحاب به حضور رسول اکرم صلی الله علیه وسلم آمد و صحنه های از وحشگیری های عهد جاهلیت خود را چنین توصیف کرد: یا رسول الله! ما در جاهلیت دختران را زنده بگور می کردیم و من هم دختری خورد سالی داشتم، او را به بهانه اینکه بخانه مامایش میبرم در کنار چاهی از قبیل حفر شده بردم وبرایش گفتم که بداخل چاه نگاه کند، آنگاه مشتی بۀ پشتش زدم، وی بداخل چاه افتاد و بدین ترتیب او را زنده بگور کردم.
پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم و یارانش از شنیدن این ماجرا زار زار می گریستند، درین میان یکی از حضار مجلس به آن شخص گفت: رسول خدا را غمگین ساختی. اما پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم از آن شخص خواست تا بار دیگر حادثه را بازگو کند، او بار دیگر تکرار کرد، اشک های پیامبر خدا از چشمانش جاری بود و از ریش مبارکش پائین می چکید. اشک ریزی و غمگینی پیامبر اسلامی در ترازی زنده بگور کردن آن دختر و تکرار ماجرا، هشدار باش صریحی آن حضرت از عدم تکرار آن وضعیت در امت اسلامی بود.
پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرمودند:
(من به نماز می ایستم و می خواهم آن را طولانی کنم، سپس گریه طفلی را می شنوم، چون از ناراحتی مادر طفل نسبت به کودکش آگاه هستم، نماز را به سرعت خوانده و به پایان می برم) این فرموده نبوی، نمونۀ کوچکی از محبت و عاطفه آن حضرت به اطفال است که امروزه حامیان حقوق بشر به حمایت از آن شعار می دهند.
پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرمودند: (فاطمه پاره تن من است، هر که او را بیازارد، مرا آزار داده است و هر که او را دوست بدارد، مرا دوست داشته است) این ارشاد نبوی نمونه بارزی از ارجگذاری به کرامت و جایگاه عالی زنان در جامعه می باشد.
پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم به جواب گریه و سوال حضرت عمر (رض) که چرا آن حضرت صلی الله علیه وسلم به روی حصیر "بوریا" خوابیده، گفت: (ای عمر آیا نمی خواهی که دنیا از آنان و آخرت از ما باشد.)
پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم به حدی امانتکار و راست گو بود که حتی از گفتن دروغ و خیانت در برابر اطفال و حیوانات نیز منع می فرمود، چنانچه روزی زنی کودکش را صدا زد که بیا برایت چیزی میدهم، پیامبر از او پرسید به او چه می دهی؟ زن گفت می خواهم برایش چند دانه خرما بدهم. پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: (اگر قصد دادن چیزی را به او نمی داشتی، دروغ گو محسوب می شد) زیرا آن حضرت صلی الله علیه وسلم گسترده تر از شفقت و دوستی ایکه در روزگار ما مدعیان دوستی با انسان عنوان می کنند، او با فراست و فطانت بی بدیل خود رحمت جهان شمولش را از هرگونه افراط و تقریط در امان نگهدارد.
از ارشادات دیگر نبوی صلی الله علیه وسلم:
- تبسم توبه رخ برادرت، صدقه است، - نظافت نصف ایمان است، - بهترین عبادات دوامدار ترین آنهاست، - راس حکمت، خوف از خداست، - شراب مادر جنایات است، - قناعت سرمایه تمام ناشدنی است، - حیا شعبه از ایمان است، - شما به اهل زمین مرحمت کنید که اهل آسمان به شما مرحمت کند، - آتش دوزخ به دو چشم اصابت نمی کند: چشم کسیکه از ترس خدا گریسته است و دیگر چشمی که شب را در راه خدا به حراست پاسداری سپری کرده است.
امیدواریم که توفیق الهی نصیب ما گردد که به سنت ها و ارشادات او بدون اهمال و غفلت تمسک جسته و به آن ها عمل نمائیم.

رئیس جدید پارلمان افغانستان یکي از سران بانفوذ حزب اسلامي در شمال افغانستان بود و در جنگ علیه شوروي سابق، رهبري مجاهدین حزب اسلامي ولایت قندوز را بەعهده داشت.
خانواده ابراهیمي از خانوادههاي تحصیل کرده و سرشناس منطقه امام صاحب قندوز به شمار میروند. ابراهیمي داراي چهار پسر و هفت دختر است.
وي بارها به عنوان میانجي منازعه "عبدالرشید دوستم " و "اکبرباي "، ۲ تن از سران بانفوذ ازبک در شمال افغانستان ایفاي نقش کرده است.
با درنظرداشت تعلقات حزبی رئیس جدید پارلمان افغانستان در گذشته، روشن نیست که آیا انتخاب ابراهیمي به عنوان رئیس پارلمان، بدون در نظر گرفتن سوابق فعالیت هاي وي انجام شده و یا پیوند حزبی ابراهیمي در انتخاب او به عنوان رئیس پارلمان نقش داشته است.

پاکستاني پوځیانو د ننګرهار ...

امین الله امرخېل وایي چې دوی په کابل کې د جګپوړو چارواکو امر ته په تمه دي.
د سیمې قومي مشرانو له دولت څخه غوښتي چې وسله ورکړي چې په خپله د پاکستاني یرغل مخه ونیسي.
دا په داسې حال کې ده چې د پاکستاني پوځیانو بمباریو د سیمې شاوخوا څلور سوه کورنۍ مجبوره کړې چې کور اور پرېږدي.
تراوسه پورې د پاکستاني پوځیانو د یرغل دلیل او انګېزه نه ده څرګنده شوې.خو د سیمې اوسېدونکي وایي پاکستاني پوځیان غواړي چې دا سیمې لاندې کړي ځکه چې لوړې او غونډۍ دي او ستراتیژیک اهمیت لري.
د سیمې یوه اوسېدونکي وویل، پاکستاني پوځیان غواړي چې ځانونه د کونړ سیند ته ورسوي.
په ۲۰۰۳ کال کې هم پاکستاني پوځیانو په دې سرحدي سیمه کې، چې د ډیورنډ کرښه پکې سمه نه مالومېږي، څو کلي او لوېې سیمې نیولې وې.
د بمباري شویو سیمو اوسېدونکو وویل چې د میاخېل، کربړې، مهتر، کنډه غونډۍ، کولک، شاګۍ او څو نورو کلیو کورونه په توغندیو لګېدلي او زیانونه وراوښتي دي.
دوی وویل چې سیمه یې پرې ایښې او اوارې ګوشتې ته کډه شوي دي.
دوی وویل چې پاکستاني هیلي کوپترونو هم پرې بمباري کړې ده.

د انتقالي عدالت ډله: له ...

دې ډلې د سولې د عالي شورا غړي په جنګي جنایتونو کې پر لاس لرلو تورن کړي.خو په دې باب یې څه نه دي ویلي چې دې ته ورته تورونه خو د ولسمشر له مرستیالانو رانیولې تر ګڼو والیانو او د ولسي جرګې تر غړیو او همداراز هغو کسانو چې څانونه د سیاسي اپوزیسیون مشران بولي په ګڼو نورو باندې هم پورې کېږي.
د انتقالي عدالت ډلې ویلي چې د سولې د عالي شورا اکثره غړي مجرمان دي او حتی د خپلو نادودو په خاطر یې بخښنه هم نه ده غوښتې.
دې ډلې د برهان الدین رباني وروستی څرګندونې هم غندلي چې ویلي یې وو د سولې د راوستلو لپاره هڅه کوي چې طالبان په قدرت کې شریک شي.
د انتقالي عدالت د ډلې په شمول یو شمېر کړی بیا بیا وایي چې که طالبان په حکومت کې شریک شول یا سوله ورسره وشوه نو په افغانستان کې به کورنۍ جګړه ونښلي ځکه چې طالبانو جنایتونه کړي خو یوشمېر نور بیا وایي د اوسني حکومت او په مجموع کې دولت په سلو کې اویا غړي هغه کسان دي چې د افغانستان په کورنیو جنګونو کې یې فعاله ونډه لرله او د ډېرو له لوري په جنګي جنایتونو تورن دي نو که پر دوی طالبان او حزب اسلامي ورزیات شي ، څه پروا لري.

نظامیان امریکا تامین ...

و گفت: آنها توان رویارویی با نیروهای آیساف و افغان را ندارد به همین دلیل غیرنظامیان را هدف قرار میدهند.
سخنگوي آیساف ادعا کرد که ۸۰ درصد تلفات غیرنظامیان، ناشي از حملات طالبان بوده است.
دره پیچ یکي از پایگاههاي مهم نیروهای امریکا در شرق افغانستان محسوب میشد که حدود ۸۰۰ نظامی امریکایی در آن مستقر هستند.
جنگل انبوهی این دره را پوشانده است و این پوشش باعث اختفا و حملات مکرر طالبان به نیروهاي امریکایی میباشد.
به نظر میرسد در پی حملات گسترده شبه نظامیان طالبان، نیروهاي امریکایی مستقر در این منطقه مجبور به تخلیه این منطقه شده اند.
برخي از تحلیلگران سیاسی علت اصلی خروج نیروهای امریکایی از پایگاه خود در دره پیچ را حملات شدید و مداوم طالبان بیان می کنند.
این منطقه هم مرز با منطقه "برگمتال " و "غازي آباد "است که برگمتال بارها میان نیروهاي افغان و طالبان رد و بدل شده است.
روزنامه "واشنگتن پست "در یکی از شمارههای اخیر درباره خروج نیروهای امریکایی از این منطقه نوشته است: حدود ۱۰۳ نظامی امریکایی در جنگهای دره پیچ و اطراف آن در مدت یک سال کشته شده اند.
به نوشته این روزنامه، با اتخاذ این تصمیم، سربازان امریکایی تلاشها و قربانیان خود در این منطقه را از دست رفته تصور خواهند کرد و بعید نیست پس از خروج نظامیان امریکایی از این منطقه، طالبان کنترل آن را بدست گیرند.
این روزنامه از قول مقامات نظامی این ولایت و "فضل الله وحیدی " والی این ولایت نوشته است که این تصمیم، واگذاری منطقه به گروههای افراط گرا خواهد بود.